


زروان په کوڅه کي د کوشنیانو سره د کرکټ
لوبه کوله او چي یوه زورداره شپړیزه ئي ووهله
نو ګېند د هغوئ د کور و هویلي ته واوښتئ-
کوشنیانو شوخل سو- زروان چي د ګېند
راخستو د پاره کورته دننه سو نو څۀ ګوري چي
د اکا زوی ئي راغلی دی- هغه چي ئي ولیدئ
نو د خوشحالي څخه ئي مخ سُور سو-



زروان چي خپل هم ځولي اَتل وليدۀ نو ډېرخوشحاله سو- هغۀ چي د اَتلِ راوړي ډالۍ وکتلي نو ګېند ځني هېر سو- اَتل زروان ته په ډالۍ کي ټېبلټ ورکړو- زروان چي ټېبلټ وليد نو ډېر خوشحاله سو- اَتل هغه ته د ټېبلټ چلول ورښکاره کړل-




اَتل او زروان د ټېبلټ پر کتلو بوخت سول- اَتل ورته لومړی څۀ کارټونان او ویډیوګېمز ورښکاره کړل- زروان ووئیل، واه په دې کي خو ډېرې خوندناکې قیصې دي- زۀ به دا روزانه ګورم-



هغه به اوس د باندي کم تللو او په کور کي به
د اَتل سره ویډیو ګیم کولو کي بوخت و- ډېري
ورځي هم داسي تیري سوې- د کوڅي کوشنیان هم
په ږغونو ورکولو ستړی سول- زروان به هم اوس
په څۀ خبره پام نه ګرځولو- د کور خلک ځني هم
پریشانه کېدل-یوه ورځي چي هغوئ دواړه څنګه
خپلې خوني ته راغلل نو څۀ ګوري چي د خوني
په مینځ کي د غټي پوکڼۍ والا ټوکره پرته ده-




د زروان د لوبو ټول شیان د ټوکرۍ په شاوخوا کې وران ویجاړ پراته وو- غټ فیل، د کرکټ بلا، ګېند ، فټبال، د چابۍ موټرګۍ او د ریبنو ګوډۍ یو په یو د پوکنۍ والا ټوکرۍ ته تلل- زروان ووئیل دا څۀ کېږي؟ دا ټوکره د چا ده او تاسي ټول چیري روان یاست؟ چا هم ځواب ورنۀ کړ او په ټوکرۍ کي کښیناستل-



اَتل چي د چابۍ والا موټرکي د نيولو هڅه کوله نو هغه ځني په تندۍ سره په ټوکرۍ کي بريک ولګولو- دېخوا غټ فيل مسلسل ژړل- زروان د هغه څخه پوښتنه وکړه- نو هغه ورته ووئيل چي موږ ټول تاسي نه ډېر خوابدي يو او پرېکړه مو وکړه چي موږ به تاسي سره په خونه کي نه پاتې کېږو-



زروان پوښتنه ځني وکړه چي اخر ولي؟ تاسي
ټول خو زما د لوبو شيان يئ- غټ فيل ووئيل:
نه نه موږ به اوس تاسي سره نه وسېږو- تاسي
ته زموږ اړتيا نسته- موږ به اوس داسي
کوشني سره ځو چي زموږ ته اړتيا لري- د
سترګو په رپ کي ټوکرۍ د لوبو شيانو څخه
ډکه سوه او پوکنه اوپړسېده- بيا ټوکرۍ د
کړکۍ څخه د باندي ؤوتله او زروان ورته
کتل- اوس خونه خالي سوي وه- زروان چي
دا هر څۀ وکتل نو په ژړا سو-



زروان چې په ژړا ژړا کې وکتل نو سر ئې
د مور په غېږه کې پروت ؤ- اَتل هم ورسره
غمجن ولاړ ؤ- زروان په ژړا کې مورته ووئيل
چې زما ټول د لوبو شيان له ما څخه ناراضه
سول- مور ورته ووئيل چې ستا د لوبو ټولو
شيان خو هم هلته پراتهٔ دي- ما خو ستا د
ژړا واورېده نو ځکه خونې ته راغلم- داسې
ښکارېده چې تاسې خوب لېدو- زروان مور
ته ټول خوب ووئيلو-



مور هغې سره مینه وکړله او د اَتل سره ئي یو
ځائ کښېنولو- زروان تاسي چي کوم خوب
لیدلی دی هغه ځکه چي تاسي ته احساس
وسو چي تاسي صرف په ټېبلټ اخته یئ او
د لوبو نورو شیانو ته مو فکر نشته- زروان
د شرم څخه سرِ کښته کړو او د مور خبري
ئي اورېدلې- اَتل چي دا واورېدل نو خپلي
سترګي ئي پټي کړې-



زویه! د ټېبلټ سره لوبي کول ښه خبره ده- خو
د دې دا مطلب نه سو چي تاسي دې ټوله ورځ
په خونه کي ځان بندي کړی او دې سره لوبي
کوئ- او نور ټول د لوبو شیان، ملګري او
کور والا درڅخه هېر سي- د باندي د ملګریو
سره لوبي کولو سره بنده جک جوړ وي-



مور دوی دواړو له د ټولي ورځي د پاره ټائم ټېبل جوړ کړو چي پکي ليک لوست، د ملګرو سره لوبي کول او په ټوله ورځ کي پر يوه خاص وخت د ټېبلټ استعمال شامل ؤ- دواړه بچيان اوس پر دي پابندۍ سره عمل کوي- هغوئ دا زده کړل چي د هر کار کولو د پاره يو وخت ټاکل کيږي- د يو شي ډېر استعمال زموږ د پاره ګټور نۀ وي-

# بګ بکس

## د دوېم جماعت د پاره

پاکستان ریډنګ پراجېکټ (USAID-funded Pakistan Reading Project) پینځهٔ کلن پروګرام دے چې، د بین الاقوامي ترقۍ دپاره امریکائي اداره (USAID) په مدد سره چلیږي- د دې پروګرام مقصد په پاکستان کې د صوبائي او علاقائي تعلیمي محکمو په تعاون سره د ذده کوونکیو د لوستلو مهارتونه ښهٔ کول دي- په دې لړکښې پاکستان ریډنګ پراجېکټ د زده کوونکیو د پښتو لوستلو مهارتونو د پرمختګ دپاره مختلف تکنیکي، تعلیمي او د ښودنې مواد تیار کړي دي-

بګ بُکس ددې تعلیمي موادو یو مهمه برخه ده- د 24 هفتو د پاره 12 بګ بُکس لیکلې شوي دي- یو بِګ بُک به په دوؤ هفتو کې لوستلې شي- استاذان به دا بِګ بُکس د "اوچت اواز" په طریقه لولي- د هر بګ بُک په وروستنې مخ د استاذانو د پاره ددې هفتې د لوستلو مهارتونو سرګرمۍ ورکړې شوي دي- استاذان دې په هفته کې دوه ورځې دا سرګرمۍ ضرور وکړي- د بِګ بُک لوستلو په وخت د دې خبرې خیال وساتئ چې ماشومانو ته ټوله قیصې واورولې شي- د دې کتابونو لیکلو په وخت مختلف اُصول د نظر لاندې ساتلې شوي دي- مثلاً د مخصوصو موضوعاتو انتخاب، د ماشومانو ذهني سطح، ساده او مناسب ټکي او د ماشومانو دلچسپي برقرار ساتلو د پاره واضحه تصویري خاکې پېش کول وغېره-

د دې محنت په نتیجه کې به استاذان د ماشومانو د لوستلو مهارتونه مثلاً صوتي اګهي ، دغږنو علم، د ټکیو ذخیره، د لوستلو رواني، او د تفهیم صلاحیتونو ته وده ورکړي شي- دا کتابونه به په خصوصي توګه د لائبرېریو برخه وي چې راتلونکي ماشومان تري هم ګټې تر لاسه کړي او د پښتو په لوستلو کې به د دلچسپۍ دا سلسله هم روانه وي-
مونږ هیله لرو چې د پي آر پي دا محنت د بلوچستان په پرائمري سکولونو کې د لوستلو معیار ښهٔ کولو کې معاون ثابت شي-

پاکستان ریډنګ پراجېکټ کې لاندیني تعلیمي او د ښودنې مواد شامل دي-

- ټي اَئي جي ماډیولز
- سبقي منصوبې
- ویډیوز
- ورک بُک
- بِګ بُکس
- فلېش کارډونه
- د ارکانو چارټونه

د چپایۍ په وخت د دې موادو د هر قسمه غلطۍ نه د پاک ساتلو د پاره په زړهٔ پورې کوشش شوے دے- بیا هم کهٔ چرې د لوستلو په وخت تاسو ته په دې کې څهٔ قسمه غلطي ښکاره شوه نو مهرباني وکړئ د دې باره کې زر تر زره د پاکستان ریډنګ پراجېکټ ضلعي یا صوبائي دفترونه خبر کړئ- د دې تعاون د پاره به مونږ ستاسو مننه کوؤ-

# د استاذانو د پاره لارښوونې

پاملرنه: استاذان دې هره ورځ ماشومانو ته ټوله قیصه اوروي او په لاندېنيو لارښوونو دې عمل کوي.

## لومړۍ ورځ (خبري اترې: پېش ګوئي او زاړه معلومات)

### تر لوستلو مخکې

» زده کونکو ته د قیصې سرپاڼه وربښکاره کولو پر وخت پوښتنه وکړئ چې:
» تاسو ته په عکس کې څۀ څۀ ښکاري؟
» ستاسو په خيال دا قیصه به د څۀ په هکله وي؟

### د لوست په مېنځ کې

» په شپږم مخ جمله "چا هم څواب ورنۀ کړ او په ټوکرۍ کې کښېناستل." ولولئ او د زده کونکو نه پوښتنه وکړئ چې ستاسو په خيال د لوبو شيان په ټوکرۍ کې ولې کښېناستل؟

### تر لوست وروسته

د خپلې مرضۍ د دوو سوالونو پوښتنه وکړئ.
» د زوران د لوبو شيان د هغې نه ولې خفا وو؟
» زوران به په ټېبلټ کې څۀ څۀ کاتل ؟

## دويمه ورځ (د ارکانو مشق)

### تر لوست وروسته

کېدې سي چې ستاسو په ټولګي کې ځينې داسې لوستونکي هم وي چې مورنۍ ژبه يې پښتو نه وي، دا لاندېني سوالونه يوآځي د دغو لوستونکو څخه وپوښتئ.
» زده کونکو ته د قیصې سرپاڼه وربښکاره کولو پر وخت پوښتنه وکړئ چې:
» تاسو به "د لوبو شيان" په خپله ژبه کې څنګه وائي؟
» په اتم مخ جمله "نه نه مونږ به اوس تاسي سره نه وسېږو." ووايئ او زده کونکو ته ووايئ چې دا جمله په خپله ژبه کې ووائي؟
» اوس زۀ ستاسو په مخکې څو ټکي لولم تاسو د هغو له غږونو سره لاسونه وپړکوئ.
» ټکي: شيان، اړتيا، غمجنه، ګټور، شپږيزه

## درېيمه ورځ (ذخيره الفاظ، مورنۍ ژبه/د ماحول ژبه)

### تر لوست وروسته

» په اول مخ جمله "د خوشحالي څخه ئي سُور سو." ولولئ او زده کونکو ته وائي چې د دی مطلب "ډېره خوشحالې" دی-هغوی ته ووايئ چې "مخ سُور سو" په خپله جمله کې استعمال کړي.

## څلورمه ورځ (خبرې اترې: د ذاتي ژوند په هکله)

### تر لوست وروسته

» زده کونکو نه پوښتنه وکړئ چې:
» زوران څخه د لوبو کوم کوم شيان وو؟
» تاسو څخه د لوبو کوم شيان دي ؟
» که تاسو څخه ټېبلټ وي نو تاسو به ور څخه څۀ کوئ؟
» د ملګرو څخه د منډو لوبو کولو کې څۀ څۀ ګټې دي؟
» د هر کار د پاره وخت ولې ټاکل ښه دي؟
» تاسو کوم کوم کارونه پر کوم کوم وخت کوئ؟

www-pakreading-org

This publication is made possible by the support of the American people through the United States Agency for International Development (USAID)- It is produced by the USAID-funded Pakistan Reading Project in collaboration with the provincial/regional government- The contents are the sole responsibility of the project and do not necessarily reflect the views of USAID or the United States Government-

د دې موادو خپرونه د امريکائي خلکو په مرسته د امريکې بېن الاقوامي ترقۍ ادارې په لاس ممکن سوې ده- دا مواد يو اېس اېډ- پاکستان رېډنګ پراجېکټ د صوبائي/علاقائي حکومتونو په مرسته او شراکت سره تيار کړي دي- ددې موادو ټوله ذمه واري د پاکستان رېډنګ پراجېکټ ده- او دا ضروري نۀ ده چې دا د يو اېس اېډ يا د امريکائي حکومت د نظريې عکاسي کوي-